# اې د الله رسوله! هیڅ وړه او لویه ګناه مې نده پرېښې مګر دا چې کړې مې ده، هغه وفرمایل: آیا ته ګواهي نه ورکوې چې په حقه د عبادت لایق نشته مګر یوازې یو الله دی او پدې چې محمد د الله رسول دی؟

له انس رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: یو سړی نبي صلی الله علیه وسلم ته راغي نو ویې ویل: اې د الله رسوله! هیڅ وړه او لویه ګناه مې نده پرېښې مګر دا چې کړې مې ده، هغه وفرمایل: آیا ته ګواهي نه ورکوې چې په حقه د عبادت لایق نشته مګر یوازې یو الله دی او پدې چې محمد د الله رسول دی؟» درې ځلې. «هغه وویل: هو: نو ویې فرمایل: یقینا چې دا په هغې سره له منځه ځي یعنې بخښل کیږي.
[صحیح دی] [ابو یعلی، الطبراني او ضیاء المقدسي روایت کړی دی]

یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی، ویې ویل: اې د الله رسوله! ما ټول ګناهونه او خطاګانې کړې دي، او هیڅ وړه او غټه ګناه مې نده پرېښې مګر دا چې کړې مې ده، نو آیا ماته بخښنه کیږي؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: آیا ته پدې ګواهي نه ورکوې چې له الله تعالی پرته په حقه بل معبود نشته او پدې چې محمد د الله رسول دی؟ درې ځلې یې ورته تکرار کړه، نو هغه جواب ورکړ چې : هو؛ ګواهي ورکوم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د شهادتینو په فضیلت خبر کړ او دا چې د ګناهونو لپاره کفاره دي، او دا چې په توبې سره مخکني ټول ګناهونه بخښل کیږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65006

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee